مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محب‌الله زغم

۲۰۲۳/۱۱/۰۷

مور او نور

د ۱۳۶۸ په ژمي کې مو د کانکور ازموینې ته تیاری نیوه. ځلور تنه ملګري وو، چې سره په ګډه مو کله د یوه، کله د بل په کور کې درس وایه. یو اندیوال مو حامد وردګ و، چې اوس انجینیر دی. د هغه پلار پیلوټ و. په روسیه کې تحصیل کړی و. یوه ورځ هغه راته کیسه وکړه:

په روسیه کې د رخصتۍ پر یوه ورځ مېلې ته ولاړو. بې سر و پایه ښکلو باغونو او ځنګلونو ته چې د غره په لمن کې پراته وو او پاخه سړکونه پکې تېر شوي وو، حیران پاتې وو. ما وویل: د سوسیالېزم برکت وګورئ، چې روسیه یې څومره ښکلې جوړه کړې ده. ټیکسي وان راته بد بد وکتل، ویې ویل: د سوسیالیزم څه و څه. دا مور جوړ کړې دي، سوسیالېزم نه دي جوړ.

د حامد پلار مور ته نصیحت وکړ: نظامونه ملکونه نه جوړوي، دا خلك دي چې خپل هیواد جوړوي. په دې فکر کې مه اوسئ چې نظام مو څه رقم دی، یوازې د وطن غم وکړئ.

پر ۱۳۷۶ کال د کابل په طبي پوهنتون کې مو درس ویل. زمور یوه استاد، چې په جرمني کې یې زده کړې کړې وې، چندان فکري استقرار نه درلود. یوه ورځ په لکچر کې په جرمني ژبه سر شو.

مور په جرمني نه پوهېدو؛ خو استاد دغسې لګیا و.

یو وخت د استاد دې ته پام شو.چې ټول شاګردان ورته حیران حیران ګوري. استاد وویل: څه خبره ده؟ لکه چې جرمني مو نه ده زده؟

مور وویل: نه.

هغه وویل: نو څه شی مو زده دي؟

یوه هلك ورغږ کړ: زمور فرانسوي زده ده.

استاد په غوسه شو: بد کوې، فرانسه مې بد اېسپېري، ته مې بد اېسپېرې.

استاد هم مور ته سپکې سپورې وویلې هم فرانسې ته. لکچر ځنې پاتې شو، د فرانسې غیبت یې شروع کړ. زمور ټولګیوال پوهېده، چې فرانسه د استاد نه خوښېږي، ځکه خو دغه شر یې جوړ کړ.

فرانسه ځکه د استاد نه خوښېده، چې د جرمنیانو هم نه خوښېږي. هغه ته جرمني دومره ګران و، چې د هغوی تربګنې یې هم خپله ګڼله. نه پوهېږم چې اوس به هم د جرمني خلك له فرانسویانو سره نه وي جوړ، که دوی یوازې هغه مهال سره بد وو، چې زمور استاد په جرمني کې و.

زمور وګړي چې بل هر ملك ته تللي دي، د هماغه ملك تر اغېز لاندې راغلي دي او بیا یې د هغوی د ظواهرو په تقلید لاس پورې کړی دی. ځوك چې په پاکستان کې اوسېدلي دي، هندي کشمیر د پاکستانیانو په پېښې مقبوضه کشمیر

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له مور سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

بولي او هندوستان ته بد وايي. هغوی چې په روسيه کې زده کړې کړې دي، تر اوسه هم امريکا او غرب ته د دښمن په سترګه ګوري.

موږ ته د نورو ملکونو د پرمختګ راز د هغوی په نظامونو کې ښکاري. خو په عمل کې وينو چې مثلاً روسيه په کمونيستي نظام کې هم مخ پر وړاندې روانه وه او اوس د ازاد بازار په نظام کې هم پر مخ ځي. ايران په خپل شاهي نظام کې هم تر موږ مخکې و، اوس چې هلته د اخندانو حکومت دی، موږ بيا هم ورپسې نه شو رسېدای.

موږ له شاهي نظامه رانيولې تر کمونيستي، جهادي، ملايي او ډيموکراسي نظامونو پورې ټول تجربه کړل؛ خو هېواد مو لا هماغسې وروسته پاتې دی؛ ځکه چې موږ يوازې د هرڅه ظاهر کاپي کوو؛ خو په محتوا پسې يې سر نه ګرځوو. موږ چې د وطن د مينې لاپې کوو هغه هم ظاهري بڼه لري.

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ